مجله علمی سلام

Salam Academic Journal

*Journal Homepage:* https://www.resaearch.salam.edu.af

سال نهم، دور دوم، شماره ۵، بهار سال ۱۴۰۳هـ ش

# په فقه او قانون کی واجبه وصیت

# Mandatory Bequest in Islamic Jurisprudence and Law

DOI: https://doi.org/10.5281/zenodo.16730852

پوهندوی وزیر محمد سعیدی [1] دکتور عبدالوهاب حسام [2]

ISSN: 3078-9583 (Online)   ISSN: 3078-9575 (Print)

تاریخ نشر: ۱۴۰۳/۰۶/۱۵   تعداد صفحات: ۱۵   از صفحه ۸۱ تا ۹۵



## لنډیز

پدی کی شک نشته چی مرگ د هر انسان لپاره یو منل شوی حقیقت دی، له مرگ څخه ورسته له اکثره مسلمانانو څخه مال اودارايي په میراث پاتی کیږی چی د متوفی ورثه یی دشرعی احکامو مطابق خپل منځ کې تقسیموي، آیا متوفی کولای شي له میراث نه پرتهخپلو غیر وارثو اقاربوته په خپل ژوندکې د خپلې دارايۍ په یو اندازه مال سره وصیت وکړي؟ او دا وصیت کول آیا جائز او مشروع کار دئ؟ او که وصیت ورباندې واجب دئ؟ ددې وصیت کولو په رابطه دعلماوو مختلف نظريات شتون لري.

جمهور علما: لکه احناف، مالکیان او شوافع وايې: د اسلام په لمړنیو کې دقران کریم د دې مبارک آیت په اساس (**كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ**.) 180 بقره( په تاسی لازمه شوی-، کله له تاسی نه یوچا ته مرک راشی که چیری مال ورځنی پاتی شی ـ وصیت کول مور، پلار اوخپلو خپلوانوته).

دپورتني ایت پراساس ورثه وو ته په مال سره وصیت کول واجب وه، او د میراث تقسیم هم د وصیت په اساس تر سره کیده، خو کله چی د میراث آیتونه نازل شول، د وصیت وجوب نسخ شو او په استحبابي ډول هر څوک کولای شي خپلو غیر وارثو خپلوانواو یا غریبانو ته د خپل مال په دریمه برخهیا له دریمی نه په کمې برخې سره وصیت و کړي.

اهل ظاهر او یو تعداد مفسیرین لکه جصاص داحکام القران مولف وايې: اوس هم غیر وارثو خپلوانو ته د مخکنی آیت پر اساس په یو مقدار مال سره وصیت کول واجب دئ او پورتنی آیت د وارثانو په حق کې منسوخ دئ او د غیر وارثو خپلوانو په حق کې په خپل وجوب سره پاتې دئ.

د افغانستان مدني قانون او د مصر د وصیت قانون تنها د متوفی هغه لمسیانو ته چې پلار يې دنیکه یا نیا په ژوندون کې وفات شوی وي او د میراث د قواعدو پر اساس د میراث مستحق نه وي د قانون د حکم پر اساس وصیت واجب بللی.

---

1. عضو کادر علمی پوهنځی شرعیات پوهنتون سلام، 0789202907، Wazirmohammad77@gmail.com

2. عضو کادر علمی پوهنځی شرعیات پوهنتون سلام، 0788663432، Abdulwahab.husam@gmail.com

**سریزه**

الحمدلله رب العالمین، و الصلاه والسلام علی سید الانبیاء و المرسلین، و علی آله و اصحابه اجمعین.

مرگ هرانسان ته راتلو نکی دئ اوله مرگ څخه خلاصون نه لرې، له مرگ نه وروسته له هر انسان سره د هغه د دنیوې اعمالو په بنا معامله کیږې، انسان که خپل دنیوې ژوند په ایمان او د اسلامې شریعت مطابق په ښایسته اعمالو سره تیرکړی وې، او له مرگ نه وروسته ده د جنت لاره غوره کړي وي، تل پاتي سعادت او نیک بختي ور په برخه کیږي، او که دنیوي ژوند یې د اسلام د اصولو خلاف په ناوړه اعمالو سره تیر کړی وي، په حقیقت کې ده له مرگ نه وروسته په لوی لاس د خپل ځان لپاره د شقاوت، بد بختی او جهنم لاره غوره کړی.

**دموضوع طرحه:**

د یادونې وړده، کله چې په اسلامي ټولنه کې یو مسلمان وفات شي او له هغه څخه ځه مال او دارایي په میراث پاتي شي، د ده مال او دارایي، د ده هغه خپل خپلوانو او اقاربوته – چې د میراث د اصولو او قواعدو مطابق د میراث مستحق وي - ورکول کیږي. مگر د دې خبرې وضاحت هم ضروري دئ، چې متوفی له مرگ نه مخکې په خپل ژوند کې خپلو هغه اقرباء او خپل خپلوانو ته چې د میراث د اصولو او قواعدو پر بنسټ د میراث مستحق نه وي – په یو اندازه مال وصیت کولای شي؟ او که په شرعي لحاظ وصیت کولای شي، دا وصیت کول وربانډی واجب دي، او که مستحب ؟ او که فرضا خپلو اقاربو ته د مال د وصیت کولو اراده ولري. نو په کوم اندازه مال ورته وصیت کولای شي؟

له بلي خوا په ټولنه کې ډیر داسې واقع شوي او واقع کیږي. چې یو شخص دری یا څلور زامن لري، د دې زامنو څخه یو زوی یې د ده په ژوند کې وفات کیږي، او د دې وفات شوی زوی څخه یتیمان پاتې کیږی چې د ده د پلار لمسیان بلل کیږی، کله چې وروسته نیکه وفات شي د دې نیکه له مال او دارایي څخه - په داسې حال کې چې د نیکه زامن (چې د یتیمانو ترونه دي) ژوندي دي – یتیمانولمسیانو ته میراث ورکول کیږي ؟ اوکه نه ورکول کیږي ؟ په شرعی لحاظ څه باید وشی؟

دا او دی ته ورته موضوعات زموږ د بحث اصلي موضوع ده. چې په فقه او قانون کې دغې یتیمانو ته – چې د میراث د اصولو په بنا له نیکه نه په دې خاطر د میراث مستحق نه دي چې د هغی زامن ژوندي دي، آیا په دې حالتکې پر نیکه واجبه ده چې دې یتیمانو ته په دریمه برخه مال وصیت وکړي او که نه؟

**دموضوع اهمیت:**

په دې کې شک نشته چې اسلام د میراث لپاره ټاکلي اصول او ضوابط لري، کله چې څوک وفات شي، او له هغه څخه مال اوثروت په میراث پاتي شي، د ده مال اوثروت، دمیراث د شرعي اصولاو ضوابطو مطابق د متوفی د مستحقو وارثانو ترمنځ تقسیمیږي، خو کله هم په ټولنه کې داسې واقع شوی، او واقع کیږي،چی یوشخص دخپل پلارپه ژوندکې وفات شي اویتیمان ورڅخه پاتي شي، بیا وروسته د دې یتیمانونیکه وفات شي، د میراث د اصولاو قواعدو پراساس، دغه یتیمان له خپل نیکه څخه د میراث مستحق نه دي، له بلی خوا کله یا ځیني وخت دغه یتیمان د نورو وارثانو په پرتله مال ته زیات ضرورت لري، او د اسلام اجتماعی عدالت یی مناسبه نه گڼی، کله چې د نیکه میراث د هغه د زامنوترمنځ (چی د یتیمانو ترونه بلل کیږي) تقسیم شيي، دوی (یتیمان) د نیکه له میراثه په دې عنوان محروم شي چی پلار یی د نیکه په ژوندکې وفات شوی دئ، د دی مشکل د حل کولو په خاطر، چې ایا په نیکه واجبه ده په خپل ژوند کې دغې یتیمانوته په یومقدارمال سره وصیت وکړي ترڅو اجتماعي عدالت مراعات شي، او یا دا چې وصیت کول و رباندې واجب نه دي؟ او که ناڅاپې مرگ و رباندې راشي او د وصیت کولو فرصت ورته پیدا نشي، د نیکه له ترکې څخه ځه مال دې یتیمانوته ورکول کیږي او که نه ورکول کیږي؟ د دې مشکل دحل په خاطرما وغوښتل په دې رابطه شرعي دلایل آود فقهاوونظریات راټول کړم، اوپدې هکله تحقیق اوڅیړنه وشي.

مخکې لدې چې پر اصلي موضوع ( په فقه او قانون کې واجبه وصیت) علمی او تحقیقی بحث او څېړنه وشي، د موضوع د ښه وضاحتپه خاطر په کارده په دې بحث وشي، چې په شریعت کې وصیت څه ته وایي، د مشروعیت د لائل یې څه دي؟ د مشروعیت حکمت او فلسفه یې څه ده؟ حکم یې څه دئ؟ بیا د دې په رڼا کې د واجبه وصیت په څرنګوالي او احکامو باندې تحقیق او څېړنه کوو.

**د وصیت تعریف**

وصیت په لغت کې:د وصول او اتصال په معنی دئ، (یوشی ته رسیدل، او یا له یوشی سره پیوستون)(۱)

په قران کریم کې وصیت به دوو معناوو راغلی:

۱ : د ژوند په حالت کې د یوشي غوښتنه، لکه د الله تعالی د اقول: چی فرمایی (ووصینا الانسان بوالدیه احسانا) (الاحقاف ۱۵ ایت) موږ له انسانه له خپل مور پلار سره د احسان کولوغوښتنه کړی.

۲: له مرګ نه وروسته د یوشي غوښتنه، لکه د الله تعالی د اقول: ( كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ) (البقره ۱۸۰ ایت) په تاسې لازمه شوی-، کله له تاسی نه یوچا ته مرک راشي که چیرې مال ورځني پاتې شي ـ وصیت کول مور، پلار اوخپلو خپلوانوته.

وصیت د شریعت په اصطلاح کې : (هبه الانسان غیره عینا او دینا او منفعه علی أن یملک الموصی له الهبه بعد موت الموصی) (۲)

( د یو انسان له خوا بل چا ته د یو معین شي یا دین او منفعت بخښل دي، په دې معنی چې موصی له (وصیت کړي شوي شخص) به د دی بخشش شوي شي، د وصیت کوونکي له مرګ نه وروسته مالک ګرځي).

او داسې هم تعریف شوی: (تمليك مضاف الي ما بعد الموت بطريق التبرع)(۳)

(په تبرعي او بخشش ډول سره یو چاته له مرګ نه وروسته د یو شي ملکیت ورکول دي).

**د وصیت د مشروعیت او جواز دلایل:**

د وصیت مشروعیت په قرآن کریم، سنت نبوی او اجماع سره ثابت شوی.

1. **قرآن کریم:**

دالله تعالی دا قول چې فرمایي(**كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ، حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ**) البقره (۱۸۰)

(په تاسې باندې په هغه وخت کښې چې ستاسې یوکس ته مرګ حا ضر شي، فرض کړي شوي ده - که چیرې مال یې په میراث پریښود- چې مور، پلار او نورو خپلوانو ته په انصاف (عدل) سره په هغه باندی وصیت وکړی، دا په متقیانو باندی حق ده.

الله تعالی فرمایي (**مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ**) النساء: (۱۱)

(خو د میراث دا تړولی برخې) د داسې وصیت د ادا کولو وروسته صورت نیسي چې مړي ورباندې وصیت کړی وي، او همد دین (قرض) د ورکړی څخه وروسته).

اوالله تعالی فرمایی:(**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِينَ الْوَصِيَّةِ اثْنَانِ ذَوَا عَدْلٍ مِنْكُمْ**) المائده: ۱۰۶

(ای مومنانو:کله چی له تاسی نه یوکس ته مرګ راشی، د شاهدانونصاب د وصیت په وخت کې ستاسې نه دوه عادل کسان دي).

2. **سنت نبوی:**

له ابن عمر (رضی الله عنهما) څخه روایت دی چې رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی: (**مَا حَقُّ امْرِئٍ لَهُ شَيْءٌ يُوصِي فِيهِ يَبِيتُ لَيْلَتَيْنِ، إِلَّا وَوَصِيَّتُهُ مَكْتُوبَةٌ عِنْدَهُ**) (۴)

هیڅ مسلمان لره نه ښاییي، چې دی څه مال د وصیت لپاره و لري، که دوه شپې هم ورباندې تیریږی،مګر لیکلی وصیت یی ورسره وي.

ابن عمر - رضی الله عنهما - وایی: له کله نه چې ما دا حدیث له رسول صلی الله علیه څخه اوریدلی. پر ما یوه شپه هم نده تیره شوې مگر زما سره خپل لیکلی وصیت موجود وي.

له سعد بن وقاص رضی الله عنه نه روایت دی : (**قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُنِي عَامَ حَجَّةِ الوَدَاعِ مِنْ وَجَعٍ اشْتَدَّ بِي، فَقُلْتُ: إِنِّي قَدْ بَلَغَ بِي مِنَ الوَجَعِ وَأَنَا ذُو مَالٍ، وَلاَ يَرِثُنِي إِلَّا ابْنَةٌ، أَفَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثَيْ مَالِي؟ قَالَ: «لاَ» فَقُلْتُ: بِالشَّطْرِ؟ فَقَالَ: «لاَ» ثُمَّ قَالَ: «الثُّلُثُ وَالثُّلُثُ كَبِيرٌ - أَوْ كَثِيرٌ - إِنَّكَ أَنْ تَذَرَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ، خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَذَرَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُونَ النَّاسَ**) (۵)

سعد بن وقاص بیماروه،رسول صلی الله علیه وسلم دهغې پوښتنې ته ورغی،سعد ورته وویل:د درد اومرض له کبله دې حالت رسیدلی یم. اوزه مالداره یم،له یوې لور پرته بل وارث نلرم،( ای دالله رسوله):ایا په ټول مال سره وصیت وکړم؟ رسول صلی الله علیه وسلم وویل: نه، سعد وویل: په دوه پر دری برخه د خپل مال سره وصیت وکړم؟ رسول صلی الله علیه وسلم وویل: نه، سعد وویل: ایا په خپل نیمایی مال سره وصیت وکړم؟ رسول صلی الله علیه وسلم وویل: نه ؟ بیا رسول صلی الله علیه وسلم وویل: په دریمه برخه وصیت وکړه، او دا دریمه برخه هم ډیره ده.ځکه که ته خپل وارثان اغنیا پریږدې دا به غوره وی نسبت دې ته چې دوی فقیران وي اوله خلکونه سوال کوي.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی: (إن الله تبارك و تعالی تصدق علیکم بثلث اموالکم في آخر اعمارکم زیاده علی اعمالکم فضعوه حیث شئتم اواحببتم) (٦)

الله تعالی پر تاسې باندې ستاسې د اموالو او ملکیتونو د دریمې برخې پیرزوینه کړی (تاسې کولای شی د خپل مال پر دریمې برخې وصیت وکړی) نو د خپل مال دریمه برخه چیرته چې غواړی او یا چاته چې مو خوښه وي وصیت وکړی)

**3. اجماع:**

اسلامیي امت د رسول الله صلی الله علیه وسلم له زمانی څخه تر اوسه پوری د تاریخ په اوږدوکي هر وخت وصیتونه کړي دي، هیچ چاپې مما نعت نهده کړی، نو د اسلامي امت له خوا دا عمل د وصیت پر جوازاجماع بلل کیږي (۷)

د وصیت د مشروعیت حکمت او فلسفه: په دې حدیث شریف کی په څرگند ډول بیان شوی. رسول صلی الله علیه وسلم فرمایی (إن الله تصدق علیکم بثلث اموالکم زیاده في اعمالکم فضعوها حیث شئتم او حیث احببتم) (۸)

الله تعالی پر تاسې باندې ستاسې د اموالو او ملکیتونو د دریمې برخې پیرزوینه کړی (تاسې کولای شی د خپل مال پر دریمې برخې وصیت وکړی) نو د خپل مال دریمه برخه چیرته چې غواړی او یا چاته چې مو خوښه وی وصیت وکړی)

لدی حدیث څخه په څرگند ډول دا معلومیږي چې د ژوندانه به آخرو شیبو کې د مال او دارایی پر دریمه برخه سره خپلو خپلوانو او فقرا وو ته وصیت کول مالی عبادت دئ، انسان کولای شي پدې مالي عبادت سره الله تعالی ته د تقرب لاره غوره کړي، او په دې وصیت کولو سره د ده په نیکو اعمالو او حسناتو کې زیادت راشي، ځکه انسان مقصر دئ، کیدای شیپه خپل تیر ژوندانه کې د نیکو اعمالو او صدقاتو په ترسره کولوکې ورځنیې تقصیر شوی وي، شریعت د تیر شوي ژوندانهد تقصیر د جبران او تلافی په خاطر هر مسلمان نارینه او ښځی ته د ژوندانه په اخیري شیبو کی دا فرصت ورکړی، چی د خپل مال په دریمه برخي سره خپلو خپلوانو او فقراوو ته د شرعی شرایطو مطابق وصیت وکړي، او د اخروي ژوند لپاره یې د حسنه اعمالو ذخیره وگرځوي.

**د وصیت شرطونه**

په شریعت کې د وصیت لپاره یو لړ شرطونه اینبودل شوي، که دا شرطونه په وصیت کی موجود وه، دا وصیت په شریعت کی معتبر او صحیح دئ، شرعي احکام او آثار ورباندې مرتب کیږي، او که لدې شرائطو څخه یو شرط هم نه وي، وصیت د اعتبار وړندی او شرعي آثار او احکام ورباندې نه مرتب کیږي.

دا شرائط یو تعداد تر وصي (وصیت کوونکی) پورې تړاو لري، او یو تعداد یې تر موصی له (وصیت کړي شوي شخص) پورې مربوط دي، او یو شمیره یې تر موصی به (وصیت کړی شوی مال) پورې تړاو لري.

**لومړی د موصي (وصیت کوونکی شرطونه)**

هغه څوک چې په مال سره چاته وصیت کوي هغه باید د وصیت کولو اهلیت او وړتیا ولري، یعنې په مال سره بل چا ته په شرعیي لحاظ د بخشش کولو او ببنلو صلاحیت ولري، او اهلیت یې کامل وي، یعنی عاقل، بالغ، او آزاد وي، او د پوره اختیار خاوند وي، او د عقل د کمزورتیا او یا دغفلت له وجی ورباندې مالی بندیز نوي لګول شوی، که چیرې وصیت کوونکی، صغیر، یا لیونی، یا غلام وي، او یا جبریي او د اکراه ډول ورباندی وصیت شوی وي، او یا مالي بندیزونه ورباندی لګول شوی وي، د دې کسانو وصیت صحیح نه دئ او شرعي احکام ورباندې نه مرتب کیږي.(۹)

**دوهم د موصی له (وصیت کړي شخص) شرطونه**

۱-موصی له باید د وصیت کوونکي وارث نه وي، وارث ته په مال سره وصیت کول شرعا جائز نه دئ، څکه رسول صلی الله علیه وسلم د مکی د فتحی په کال وویل: (إن الله قد اعطي کل ذی حق حقه فلا وصیة لوارث) (۱۰)

یقینا الله تعالی هرحقدارته خپل د میراث حق ورکری لدی وروسته وارث ته وصیت کول نشته.

د دې حدیث په بنا د متوفی هغه خپلوان چې له متوفی څخه مال په میراث وړي هغې ته شرعا په مال وصیت کول جائز ندي.

۲-موصی له خپل وصی (وصیت کوونکی) په حرام قتل سره نوی وژلی، که چیرې موصی له هغه څوک چی ده ته یې په مال سره وصیت کړی وواژه، په دې قتل سره وصیت باطل شو، او موصی له د مال مستحق نه ګرځي.

**دریم: د موصی به (وصیت کړي شوي شي) شرطونه**

1. په موصی به کې دا شرط ده چې موصی به د وصیت کونکی له وفات وروسته د ملکیت د اسبابو په اساس د ملکیت وړتیا ولري، بناء هر هغه شی چی مالی ارزش ولري که عین وي یا منافع وي، وصیت کول په هغی سره جائز دي، او هغه شیان چې مالي ارزښت و نه لري په هغې سره وصیت کول جائز نه دي، لکه شراب، خنزیر.
2. شرط دا ده چی وصیت کوونکی د ورثی له اجازی پرته د ترکی له دریمی برخې نه په زیات مال سره وصیت نشي کولای، څکه له سعد بن ابی وقاص نه روایت دئ (انه کان مریضا فعاده رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال یا رسول الله اوصی بجمیع مالی؟ فقال: لا. فقال: بثلثی مالی؟ قال: لا، قال: فبنصف مالی؟ قال لا، قال فبثلث، فقال: علیه الصلاه و السلام: الثلث و الثلث کثیر. انك إن تدع ورثتك اغنیاء خیر من ان تدعهم عالة یتکففون الناس) (۱۱)

سعدبن ابي وقاص بیمار وه، رسول صلی الله علیه وسلم د هغې پوښتنې ته ورغی،سعد ورته وویل:ای د الله رسوله: ایا په ټول مال سره وصیت وکړم؟ رسول صلی الله علیه وسلم وویل: نه، سعد وویل:په دوه پر دری برخې وصیت وکړم؟ رسول صلی الله علیه وسلم وویل:نه، سعد وویل: ایا په خپل نیمایي مال سره وصیت وکړم؟ رسول صلی الله علیه وسلم وویل: نه، سعد وویل: په دریمه برخه د مال وصیت وکړم؟ رسول صلی الله علیه وسلم وویل: په دریمه برخه د مال وصیت وکړه، او د ادریمه برخه هم ډیره ده. څکه که ته خپل وارثان اغنیا پریږدې دا به غوره وي نسبت دې ته چی دوی فقیران وي او له خلکو سوال کوي.

د یادونې وړ ده چی د تیر شویو شرائطو په موجودیت کې وصیت هغه وخت نافذ بلل کیږي کله چې وصیت کوونکی وفات شي، او له مرګ نه مخکې دوصیت کونکي په ژوند کې د اجرا وړ نه دئ، همدا رنګه وصیت کوونکی باید قرضدار نه وي، که چیري وصیت کوونکی قرضدار وي په اول قدم کې یې باید قرضونه ورکړل شي، که د قرضونو د ادا کولو وروسته مال پاتې شو په دریمه برخه د مال کې یې وصیت نافذ بلل کیږي، څکه الله تعالی فرمایی (**مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ**) النساء: ۱۱

(خو د میراث دا ټولی برخې) د داسې وصیت د ادا کولو وروسته صورت نیسي چې مړي ورباندی وصیت کړی وي، او هم یې دین(قرض) د مخه ادا کړی وي.

د وصیت په باب له دې مختصر او لنډو معلوماتو وړاندې کولو وروسته غواړم د واجبه وصیت په باب تفصیلی معلومات وړاندی کړم.

د واجبه وصیت په رابطه د دی لاندې موضوعاتو وضاحت ضروري دئ:

واجبه وصیت څه ته وایي؟

د واجبه وصیت په رابطه د علماوو اختلاف؟

واجبه وصیت د چا لپاره واجب دئ؟

د واجبه وصیت شرطونه کوم دي؟

د واجبه وصیت مقدار او اندازه څومره ده؟

**د واجبه وصیت تعریف**

ځینې علماوو واجبه وصیت داسې تعریف کړی: (چی یو شخص د خپلی لور اولاد، یا د زوی اولاد ته په څه مال سره وصیت وکړی ) (۱۲)

او بعضو نورو داسې تعریف کړی: (د هغې لمسیانو لپاره په مال سره وصیت دئ، چې د دوی پلار یا مور د نیکه او یا نیا په ژوند کی وفات شوی وي، او د دوی د نیکه یا نیا له وفات وروسته له خپل نیکه او نیا څخه له میراث څخه د محجوب کیدو له وجی میراث نه وړي. (۱۳)

اوځینونورو بیا داسی تعریف کری (د هغی چا د اولادی لپاره چی د مورث په ژوند کې وفات شوی وي له ترکې څخه د یوی ټاکلی برخې په خاصو شرائطو سره تملیکول دي)(١٤)

وصیت باید اختیاري وي، یو شخص کولای شي په خپله اراده او خوښه خپلو خپلوانو او یا پردیو ته د خپل ژوند په آخری شیبو کې په یو اندازه مال سره وصیت وکړي، او که وصیت یې ونه کړ کوم لزوم ورباندی نشته، مگر کله کله وصیت هغه وخت وربانديې واجب کیږي چی د الله تعالی حق وربانديي پاتې وي: لکه حج یا زکات، یا کفارات، او یا د بنده حق وربانديې پاتي وي، لکه دین، یا امانت، په دې صورت کې وصیت وربانديې واجب دئ، هغه کسان چې حجیا زکات او یا کفاره وربانديې لازم شوي وي او ادا کړي یې نوي، اویا د چا وربانديې قرض وي، او یا د چا ورسره امانت وي، ادا کړی یې نه وي، په دې شخص واجبه ده چې په دی هکله ورثی ته وصیت وکړي چې دا حقوق د ده له مرگهوروسته ورثه د ده له ترکې څخه ادا کړي، او دا وصیت وربانديې واجب دئ، او دې کې اختلاف نشته، مگر د علماوو ترمنځ د وصیت واجبه د اختلاف ځای هغه واجبه وصیت دئ چې د افغانستان مدني قانون په ۲۱۸۲-۲۱۸۳-مادو کې او د مصر د وصیت قانون په ۷۱-۷۶ د ۱۹۴۶ کال قانون د یو تعداد خاصو اقاربو لپاره په خاصو شرائطو او ټاکلې اندازې سره وصیت واجب گرځولی دئ، قانون د هغه شخص اولادی ته چی د خپل پلار یا مور په ژوند کې وفات شوي، د دې اولادې پر نیکه او نیا واجب گرځولي چې خپلو یتیمو لمسیانو ته په یو اندازه مال وصیت وکړي، که ده په خپل اختیارسره دا وصیت وکړ هغه نافذ او قابل اجراء دئ او که وصیت یې نوي کړی، د قانون په اساس په واجبی ډول دا مال یتیمانو ته ورکول کیږي (۱۵)

ددی معلوماتو پر اساس ویلای شو چی وصیت په دوه ډوله دیئ:

لمړی: اختیاری وصیت

دوهم: واجبه وصیت

لکه مخکې چي مو یادونه وکړه، وصیت باید اختیاری وي، موصی (وصیت کوونکی) کولای شي په خپله رضا او رغبت او اراده، کله چی وغواړی خپلو خپلوانو او یا بیگانه فقراوو ته په څه اندازه مال سره وصیت وکړي او وصیت ورباندی واجب نه دئ، لکه څنگه چی رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي ((إن الله تصق علیکم بثلث اموالکم زیاده في اعمالکم فضعوها حیث شئتم او حیث احببتم) (١٦)

الله تعالی پر تاسي باندې ستاسې د اموالو او ملکیتونو د دریمې برخې پیرزوینه کړی (تاسې کولای شۍ د خپل مال پر دریمې برخې وصیت وکړئ) نو د خپل مال دریمه برخه چیرته چې غواړۍ او یا چاته مو چې خوښه وي وصیت و کړۍ)

مگر د علماوو ترمنځ د واجبه وصیت په رابطه اختلاف موجود دئ.

جمهورو علماوو واجبه وصیت ته جواز نه دی ورکړی او منسوخ يې بولي، یو تعداد نورو علماوو لکه سعید بن مسیب، حسن بصری، طاووس، امام احمد، داود ظاهری، طبری، اسحق بن راهویه، ابن حزم ظاهری په واجبه وصیت باندی قائل دي، دوی وايي: کله چی له یو چا څخه مال په میراث پاتي شي په هغه باندی واجبه ده چې خپلو هغه اقرباوو ته چی د حجب یا حرمان له کبله میراث نشي اخیستی، په یو اندازه مال هغوی ته وصیت وکړي، او که وصیت و نه کړي په ورثه وو باندې واجبه ده چې له متروکه مال څخه یو مقدار مال هغوی ته ورکړي(۱۷)

د افغانستان مدنی قانون او د مصر د وصیت قانون هم په واجبه وصیت باندی قائل دي او په خپلو قوانینو کې يې ځای ورکړی.

غواړم د واجبه وصیت د ثبوت په رابطه د هغه علماوو دلائل ذکر کړم چی واجبه وصیت ته يې جواز ورکړی، او همدارنګه د جمهورو علماوو دلائل -چې واجبه وصیت ثابت نه بولي- ذکر کړم، او همدارنګه د مدني قوانینو مواد په دی رابطه په تفصیل سره ذکر کړم.

**د واجبه وصیت په هکله د علماوو اقوال:**

په عامه توګه د واجبه وصیت په هکله دوه نظره موجود دي.

1. د جمهورو علماوؤ نظر
2. د ابن حزم ظاهری او یو شمیر تابعینو او مفسرینو نظر.

لومړی جهمور علما ( حنفی، مالکی او شافعی او بعضی نور علماء) وایي: کله چې یو مسلمان وفات کیږي په ده باندې خپلوانو او نزدی اقاربو ته په یو مقدار مال سره وصیت کول واجب نه دي، بلکه وصیت کول سنت یا مستحب کاردئ، که چیري يې خپلو اقرباوته د خپل مال په دریمه برخه وصیت وکړ، دا ښه کار دئ، او په دې وصیت سره اجر او ثواب ورکول کیږي، خوکه وصیت يې ورته ونه کړ، ګناه ګار نه ګڼل کیږي، وصیت وربانذی واجب نه دئ دوی وايي : کوم وصیت چې د اسلام لومړنیو ورځو کې د دې مبارک آیت په اساس خپل اقاربو ته واجب شوی وه، چې الله تعالی فرمایی (**كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ**)

د دې وصیت وجوب د میراث د آیتونو او احکامو په نازلیدو سره منسوخ شو، ځکه د اسلام په لمړنیو ورځو کې د میراث احکام نه وو نازل شوي، کله به چې څوک وفات کیدل، د خپل مال او ثروت په باره کې په يې خپل مور، پلار او یا نورو خپلوانو ته د پورتنی آیت په اساس په یو مقدار مال سره وصیت کولو، ترڅو د ده له وفات وروسته د ده مال بې سرنوشته پاتې نشي، خو کله چې د میراث احکام نازل شول، او په میراث کې د هر حقدار حق معلوم شو، د وصیت د وجوب حکم منسوخ شو (۱۸)

له دی کبله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایی (إن الله قد اعطی کل ذی حق حقه فلا وصیه لوارث) (۱۹)

(د میراث د احکامو په نازل کیدو سره، الله تعالی د هر حقدار وارث حق معلوم کړ، وروسته له دی وارث ته وصیت نشته)

همدارنګه رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (إن الله تصدق علیکم بثلث اموالکم زیاده في اعمالکم فضعوها حیث شئتم او حیث احببتم) (۲۰)

الله تعالی پر تاسي باندې ستاسې د اموالو او ملکیتونو د دریمې برخې پیرزوینه کړی (تاسې کولای شی د خپل مال پر دریمې برخې وصیت وکړی) نو د خپل مال دریمه برخه چیرته چې غواړی او یا چا ته چې مو خوښه وی وصیت وکړی)

امام شمس الائمه سرخسی په خپل کتاب مبسوط کی ویلی: (اعلم بأن الوصیة عقد مندوب الیه مرغوب لیس بفرض ولا واجب عند جمهور العلماء) پوه شه چې وصیت کول مستحب او تشویقي عقد او تړون دئ، د جمهورو علماوو په نظر سره فرض او واجب نه دئ.

او بیا وایي: زمونږ دلیل پدی رابطه چې وصیت کول (اقاربو ته) جائز او روا کار دئ او وصیت کول پر موږ واجب نه دي، درسول الله صلی الله علیه وسلم دا حدیث په ځرګند ډول دلالت کوي چی وصیت کول فرض او واجب نه دي بلکه د نفلي عباداتو په شان مستحب او جائز کار دئ.

بل دا چه له مرگ وروسته یو چاته د مال صدقه کول او پیرزوینه، د ژوندون حالت کې یو چاته د مال صدقه کولو باندی قیاس کیږي، په دې کې شک نشته چې د ژوند په حالت کې یو چاته مال صدقه کول فرض او واجب نه دي بلکه مستحب کار دئ، له مرگ نه ورسته هم یو چاته د وصیت په طریقه د مال صدقه کول هم فرض او واجب نه دي بلکه مستحب او د ثواب کار دئ.

اما کوم آیت چې د وصیت په رابطه قران کریم کی راغلی :( کُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ، حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ) په دې آیت سره اگر که بعضې علماوو دوصیت د وجوب لپاره استدلال کړی، خو امام سرخسی رحمه الله وایي: اکثرو د تفسیر علماوو په دی اتفاق کړی چې د اسلام په لومړنیو شیبوکې کله چی د میراث آیتونه نوو نازل شوي وصیت کولواجب وه، خو کله چې د میراث آیتونه نازل شول د دې آیت حکم منسوخ شو.(۲۱)

امام قراقی په خپل کتاب الذخیره کې د وصیت د وجوب او عدم وجوب په رابطه دعلماوو نظریات او دلائل ذکر کړي دي، او دایې ویلي دي چې دامام مالک او جمهورو علماوو نظر دادئ چې وصیت کول واجب نه دي، بلکه خپلوانو ته په مال سره وصیت، د وصیت د شرائطو مطابق مستحب کار دئ. او د وصیت وجوب چی د اسلام په لومړیو شیبو کې د دې مبارک آیت سره (كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ) ثابت وه، هغه وجوب د میراث د آیتونه به نازلیدو سره نسخ شو.

او یا دا ایت د رسول صلی الله علیه وسلم په دی حدیث سره نسخ شوی چی فرمایی ( ان الله قد اعطی کل ذی حق حقه فلا وصیه لوارث) (۲۲)

امام خطیب شربینی چې د امام شافعی مذهب نوموتی عالم دئ په خپل کتاب مغنی المحتاج کې د وصیت د حکم په باب داسې لیکي: ( و کانت اول الاسلام واجبه بکل مال للوالدین والاقربین بقوله تعالی (كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ) الایه ثم نسخ وجوبها بایه المواریث وبقی استحبابها فی الثلث فاقل لغیر الوارث) د اسلام په لومړنیو شیبوکې مور او پلار او اقاربو ته په مال سره وصیت کول د الله تعالی د دې قول په بنا چې فرمایي (كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ) واجب وه، بیا د میراثد ایتونو په نازلیدو سره د وصیت وجوب منسوخ شو، اود ترکی په دریمه او یا دریمی نه په کمه برخه کې غیر وارثو اقرباوو ته وصیت کولو حکم مستحب پاتې شو.(۲۳)

ابن قدامه المقدسی چی د حنبلی مذهب مشهور عالم دی، په خپل کتاب المغنی کې د وصیت د حکم په رابطه داسې لیکلي:( و لاتجب الوصیه الا علی من علیه دین، او عنده ود یعه، او علیه واجب یوصی بالخروج منه، فان الله تعالی فرض اداء الامانات، و طریقه فی هذا الباب الوصیه فتکون مفروضه علیه، فاما الوصیه بجزء من ماله، فلیست بواجبه علی احد، فی قول الجمهور، و بذلک قال الشعبی، والنخعی، و الثوری، و مالک، والشافعی واصحاب الرأی وغیرهم، و قال ابن عبدالبر: اجمعوا علی أن الوصیه غیر واجبه الا علی من علیه حقوق بغیر بینه و امانه بغیرشهادهالا طائفه شذت فاوجبها)

( وصیت واجب نه دئ مگر په هغه چا وصیت کول واجب دي چې په هغه باندې دین وی او یا له هغه سره د چا امانت وي او یا په هغه باندې کوم واجبي حق وي، د دې حق د ادا کول لپاره باید یو چا ته وصیت وکړی ځکه چې الله تعالی د امانتونو اد ا کول او سپارل فرض گرځولی، او د امانت ادا کولو لاره وصیت کول دي، نو ځکه وصیت کول وړباندې فرض دي، اما د مال په یوه برخه (خپلوانو یا فقرا وو ته) وصیت کول د جمهورو علماوو په نظر سره واجب نه دي، او دا د امام شعبی نخعی، ثوری، مالک، شافعی، اصحاب الرای( احنافو) او نور علما وو نظر دئ.

ابن عبد البر ویلی: علماوو په دې سره اجماع کړی چې وصیت واجب نه دئ، مگر وصیت کول په هغه چا باندی واجب دئ چې په هغه باندې د خلکو حقوق وي او شاهد وجود و نه لري، او یا د چا امانت ورسره موجود وی او شاهدان وړباندې نوي موجود ( نو په داسې شخص باندې وصیت کول واجب دي، ځکه که وصیت و نه کړي کیدی شي د خلکو حقوق ضایع شي)(۲٤)

دوهم قول: چې د اهل ظاهرو او یو تعداد فقهاوؤ او مفسرینو نظر دی: لکه سعید بن مسیب، حسن بصری، طاووس، داود ظاهری، ابن حزم ظاهری، امام طبری، اسحاق بن راهویه، اوداودظاهری.

دوی وايي: کله چې يو مسلمان وفات کيږي، په هغې باندې واجبه ده چې خپلو هغو اقرباوو او خپلوانو ته چې وارثان نه دي او له متوفی مال په میراث نه اخلي، په يو مقدار مال سره وصيت وکړي، او که وصيت و نه کړي گنهگار، او د واجبو ترک کوونکی گڼل کيږي، او په ورثه او يا وصی باندی لازمه ده چې دې اقرباوو ته -چی وارثان نه دي د مړي له ترکې څخه يو مقدار مال ورکړي.(۲۵)

ابن حزم ظاهری وايي: ( په هر مسلمان باندې دا فرض ده، چې خپلو هغو اقرباوو او خپلوانو ته چې له ده څخه میراث نه اخلي- په يو مقدار مال سره وصيت وکړي- که میراث نه اخيستل يې د غلامی، يا کفر له خاطره وي. او يا چا له میراث څخه محجوب کړي وي، او يا وارث نه وي- نو دوی ته دې په يو اندازه مال سره- چی زړه يی غواړی - وصيت وکړي او په دې کې ټاکلی اندازه نشته، او که دا کار ونه کړي. څه مقدار مال له ترکی څخه باید دې خپلوانو ته ورکړل شي، او خامخا يی باید ورثه او يا وصی - کومه اندازه مال چی مناسب گڼی- باید دې اقاربو ته ورکړي.(۲٦)

د دوهم قول دلائل:

۱-د الله تعالی دا قول چی فرمايی (**كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ**) دوی وايي: چې په دې مبارک آيت کې (کتب) د (فرض) يعنی د فرض کړي شوي په معنی ده، يعنی د مرگ په وخت کی په تاسې باندې وصيت کول، مور او پلار او اقاربو ته فرض دي، بل دا چی د دې وصيت په دې آيت کې، په مصدر (حقا) سره تاکيد شوی، دا هم د وصيت پر وجوب باندی دلالت کوي.

بل دا چې په دې آيت کې راغلي (علی المتقين) يعنی دا وصيت په متقيانو او له الله نه ويريدونکو کسانو باندې واجب دئ، دا په دې دلالت کوي چې وصيت کول د تقوی له لوازمو څخه دئ، او د تقوی مخالفت حرام دئ، نو په دی اساس وصيت کول واجب دي. (۲۷)

۲-په دی آيت سره استدلال کوي(**وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا وَاكْسُوهُمْ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَعْرُوفًا**) په دی آيت گی له (الوالقربی) نه هغه خپلوان مراد دی چی وارثان نه وی، او د الله تعالی دا قول (**وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا**) يعنی د میراث د تقسيم شوي مال نه څه ورکړی (**وارْزُقُو**) د امر کلمه ده، او امر پر وجوبدلالت کوي، نو د آيت معنی دا ده، هغه خپلوان چی ستاسی نه میراث نه وړي په يو مقدار مال هغوی ته وصيت وکړی. (۲۸)

۳- د رسول صلی الله عليه وسلم حديث چی له عبدالله بن عمر نه روايت دی (أن رسول الله صلي الله عليه وسلم قال :ما حق امرئ مسلم له شيء يوصي فيه، يبيت ليلتين الا و وصيته مكتوبة عنده)(۲۹)

د رسول صلی الله دا قول (ماحق امرئ مسلم) يعنی د مسلمان لپاره نه ښايي کله چې د وصيت لپاره مال و لري، چې دوه شپی هم ورباند تيرېږي مگر دا چې خپل ليکلی وصيتورسره وي نو د حديث دا کلمه (ماحق امرئ مسلم) په ظاهر سره د وصيت پر وجوب باندې دلالت کوي، نو په دې اساس دا حديث په قرآن کريم کې هغه واجبه وصيت چې غير وارثو اقرباوؤ لپاره راغلی- تأييد وي (۳۰)

جهمور علما وايی: په هغه آيتونو سره چې د دوهم قول علماوو د وصيت د وجوب لپاره استدلال کړی دا استدلال يې درست نه دئ؛ ځکه د دې دواړو آيتونو حکم د میراث د آيتونو په نازليدو سره منسوخ شوی، د اسلام په ابتداء کښې چې کله د میراث احکام نوو نازل شوي، مور او پلار او اقاربو ته د متروکه مال په باب د ذکر شوو آيتونو په اساس وصيت واجب وه، خو کله چې د میراث آيتونه نازل شول، رسول صلی الله عليه وسلم وفرمايل (إن الله قد اعطی کل ذی حق حقه فلا وصيه للوارث)(۳۱)

هغه واجب وصيت د مور او پلار او نور وارثو اقرباوو په هکله منسوخ شو، او د غير وارثو اقرباوواونورو کسانوته وصيت کول مستحب و گرځول شو، د وصيت د استحباب دليل د رسول صلی الله عليه وسلم دا حديث دی--چی فرمايی : (إن الله تصدق عليكم بثلث اموالكم زياده في اعمالكم فضعوها حيث شئتم او حيث احببتم) (۳۲)

الله تعالی پر تاسې باندې ستاسې د اموالو او ملکيتونو د دريمې برخې پيرزوينه کړی (تاسې کولای شئ د خپل مال پر دريمې برخې وصيت وکړی) نو د خپل مال دريمه برخه چيرته چې غواړی او يا چاته چې مو خوښه وي وصيت وکړی) – د دی حديث په بنا که څوک

وغواړي د مرگ په وخت کی خپلو خپلوانو او یا نور وکسانو ته وصیت کولای شي، او که خوښه یې نوي، وصیت کول وربانديې واجب نه دي، او په نه وصیت کولو گنهگار نه بلل کیږي (۳۳)

او جهمور علما د عبدالله بن عمر د حدیث په رابطه وایي: چې دا حدیث د هغه چا په رابطه د وصیت وجوب بیانوي. چې د هغې پر ذمه بانديې د خلکو حقوق وي، که چیري د دې حقوقو په رابطه وصیت و نه کړي، د دې احتمال شته چې هغه حقوق ضایع او تلف شي، مثلا د ده سره د چا مال امانت وي، او یا د چا وربانديې قرض وي او ورثی ته معلومات نه وي او په دې رابطه سندهموجود نه وي، نو د عبدالله ابن عمرد حدیث په بنا د نوموړیو حقوقو په رابطه باید وصیت وکړي ځکه مرگ ناڅاپی راځي، وخت یې هم معلوم نه دئ، کیدای شي ناڅاپي مرگ یې د وصیت مانع وگرځي، نو پکارده چې مخکې له مخکې د دې حقوقو په رابطه خپلې ورثی ته وصیت وکړي (۳٤)

**راجح قول:**

دواجبه وصیت په رابطه دجمهورو علماوو نظر راجح دئ، یعنی دمیراث دآیتونو په نازلیدلو سره واجبه وصیت منسوخ شو، خپلو خپلوانو ته په مال سره وصیت کول مستحب کار دی، پدی رابطه کوم دلایل چې د جمهورو علماوو د نظر د تأیید لپاره، ذکر شوي، قوی بلل کیږي، د یادونې وړ ده، که چیری په هر مسلمان د مرگ په وخت کې وصیت کول واجب وی، اسلامی امت به په وصیت کولو سره د نورو فرایضو او واجباتو په شان لکه لمونځ، روژه، زکات او حج، التزام ښودلی وه، پداسی حال کې چې رسول صلی الله علیه وسلم وفات شو او په مال سره یې وصیت ندی کړی، خلفاء راشیدین وفات شول هیڅ یوه په مال سره وصیت ندی کړی، له هغوی نه ورسته صحابه کرامو او نور اسلامی امت څه ندی رانقل شوی چی حتما به هر یوه دمرگ په وخت په مال سره وصیت کوي، دا ټول پدی دلالت کوی چی وصیت کول واجب ندي.

**په قانون کې واجبه وصیت**

د افغانستان مدنی قانون د اجتماعی مصالحو په نظر کې نیولو سره، او د ورثه او اقاربو تر منځ په میراث کې د عدالت او توازن تأمینولو په اساس، د متوفی هغه لمسیانو ته چېد دوی پلار د نیکه یا نیا په ژوند کې وفات شوي وي، او د میراث د قواعدو په اساس دوی د میراث مستحق نه گرځي، د ابن حزم او هغه علماوؤ او مفسرینو د نظر په اساس، چې غیر وارثو اقاربوته وصیت واجب بولی، قانون د خاصو شرائطو په نظرنیولو سره، دوی ته وصیت واجب بللی.

د افغانستان مدنی قانون په (۲۱۸۲) ماده کی د واجبه وصیت په رابطه داسې حکم کوی ( که مړي د خپلې فرعې هغې ولد ته چې د هغې په ژوند کې حقیقتا مړ شوی یا ورسره یوځای، که څه هم حکما وي- مړ شوی وي، د هغی مثل په اندازي چې که چیرته د هغه د مړینی په وخت کښې ژوندی وي نو د هغه په ترکې کښې دا ولدد میراث مستحق کیده، نو د فرعی د پاره په ترکې کښې د دې حصی په اندازې د دریمي برخې په حدودو کې وصیت واجبیږي، دا په دی شرط چې میراث وړونکی نه وي او په دی شرط چی مړی ورته بی له عوضه د بل تصرف دلاری دومره شی نه وي ورکړي چې دهغه د پاره واجبیږي، که یی د واجبې اندازې څخه کم شی ورکړي وو، نو دومره اندازه وصیت ورته لازمیږی چې هغه پوره کړي (۳۵)

(۲۱۸۳) ماده وایی (د دی قانون د (۲۱۸۲) مادې درج شوی وصیت د لومړی طبقې د اصلی لورگانو او اولادونو ته، او اصلی زامنو اولادونو د پاره چی د ملا څخه وی- دئ، که څه هم درجې یې ټیټې شي، خو په دی ترتیب چی هر اصل خپله فرعه حجبه وي، نه د بل فرعه. او د هر اصل حصه د هغی په فرعی باندی. لکه د میراث د ویش په شان ویشلهکیږي، که څه هم درجی یې ټیټې شې. او دا ترتیب داسې حکم لري چې هغه یا اصول چې د هغوی په وسیلې فرعې مړي ته منسوبیږي د هغه د مړینی وروسته مړه شوي وي او د هغوی مړینی د طبقو د ترتیب په شان مرتب صورت موندلی وي (۳٦)

د مصر د وصیت قانون په (۷٦) ماده ۷۱ شمیره د ۱۹٤٦ میلادی کال داسی حکم کوی (کله چې متوفی د خپل هغه اولاد فرعې (زوی یا لور ته) چی د ده په ژوند کی وفات شوي وي او یا له ده سره یو ځای په یوه حادثه کې وفات شوي وي، اگر که حکما وفات

شوي وي (قاضي يې په مرگ سره حکم کړی وي/ لکه مفقود) په هغه اندازه مال سره چې اولاد يې په ميراث سره په ترکه کې مستحق کيږی- او يا يې د وفات په وخت ژوندی وي- وصيت نوي کړی، د دې ولد فرعې ( زوی يا لور ته) په همدی مقدار برخې سره چې د ترکې دريمې برخې زيات نوی، وصيت واجب دی.)(۳۷)

د افغانستان د مدنی قانون او د مصر د وصيت قانون له ذکر شويو مادو څخه په څرگنده معلوميږي چې د متوفی هغه لمسيانو ته چې د هغوی پلارد هغوی د نيکه په ژوند کی وفات شوی وي ود يو لړ شرائطو په نظر نيولو سره وصيت واجب بللی- يعنی نيکه که خپلو دغه لمسيانو ته په يو مقدار مال هم وصيت نوی کړی د قانون په حکم سره هغوی ته د متوفی له ترکی څخه هغه مقدار مال ورکول کيږي کوم چی پلار يې د حيات په صورت کی د ميراث مستحق گرځيده په دې شرط چې د ترکې له دريمې برخې زيات نشي.

دا چې د افغانستان مدنی قانون او د مصر د وصيت قانون واجبه وصيت حکم د مړی تر لمسيانو پوری منحصر بللی، او نورو خپلوانو ته يې ندی غزولی، د دې وجه دا ده: چی له يوی خوا نه لمسيان له مړي سره ډير نژدې قرابت لري، او له بلې خوا لمسيان يتيمان دي او يتيمان د ژوند يو په پرتله- چی د دوی ترونه بلل کيږي - مال ته ډير ضرورت لري، او بل دا چی دا به عدالت نه وي چی د يتيمانو ترونه له متوفی مال په ميراث يوسي او يتيمانو تهله يوی خوا يتيم توب درد رسيدلی، او بلی خوا له ميراث نه هم محروم شی، او بل دا چې: وصيت که واجب هم نه وي بلکه اختياری وي، اولوالامر کولای شي چی د مصلحت او ضرورت په اساس يو جائز او مباح کار واجب وگرځوی قانون هم د يتيمانو د مصلحت او ضرورت په اساس د دوی په حق کيې وصيت واجب گرځولی يعنی که متوفی په خپل ژوند کې يتيمانو ته په مال سره وصيت هم نه وي کړی د قانون د حکم په اساس د ترکی نه په هغه اندازه مال د واجبه وصيت پر اساس ورکړل شي په کومه اندازه يې چې پلار د ژوندی توب په صورت کی د مال مستحق گرځيده.

د افغانستان د مدنی قانون او ابن حزم ظاهری د مذهب ترمنځ د واجبه وصيت په رابطه توپيرونه:

د افغانستان مدنی قانون او د مصر د وصيت قانون اگر که د ابن حزم ظاهری د مذهب او يو تعداد تابعينو او فقهاوو او مفسرينو د پيروی او متابعت په اساس واجبه وصيت ته جواز ورکړی، خو بيا هم د مدني قانون او ابن حزم ظاهری د مذهب ترمنځ يو لړ توپيرونه موجود دي:

۱-مدنی قانون واجبه وصيت تنها هغه لمسيانو ته - چی د هغوی پلار د دوی د نيکه په ژوند کی وفات شوی وي او دوی د ميراث مستحق نه وي- لازم گرځولی او د متوفی نورو اقاربو ته چی وارثان نوی وصيت واجب او لازم نه بولي، په داسې حال کې چې امام ابن حزم ظاهری د متوفی ټولو هغو اقاربو ته چې وارثان نوی وصيت واجب بللی، که لمسيان وي، يا نيکه او نيا وي، او يا وريرونه او نور خپلوان وي، په دی شرط چی وارثان نه وی. او دا وصيت تر بعضې اقاربو پورې منحصر کولای شي.

ابن حزم رحمه الله وايي (پر هر مسلمان باندی فرض ده چې خپلو هغه اقاربو ته چې له ده څخه، د غلامۍ له وجی يا د کفر له وجی، يا د حجب په خاطر، يا د کوم بل سبب په اساس ميراث نه وړي په يو مقدار مال سره چې زړه يې وغواړي وصيت وکړي او په دې کې ټاکلی اندازه نشته، او که وصيت يې ورته نوي کړی، خامخا د دې خپلوانو ته، د ده ورثه او يا وصی يو مقدار مال ورکړی.(۳۸)

۲- مدنی قانون او د مصر د وصيت قانون واجبه وصيت د ترکې تر دريمې برخې پورې منحصر کړی او واجبه وصيت بايد د ترکی له دريمی برخې زيات نشي او که له دريمې برخې په زيات مال سره وصيت هم شوی وي د اجراء وړ ندی، امام ابن حزم ظاهری د واجبه وصيت لپاره ټاکلی اندازه نه ده تعيين کړی بلکه په کومه اندازه چې د وصيت کوونکی زړه وغواړی وصيت کولای شي او په دې کی ټاکلی اندازه نشته.

۳- مدنی قانون او د مصر د وصيت قانون، د متوفی د لورگانو تنها لومړنی طبقې اولاد ته وصيت واجب بللی لکه د لور زوی يا د لور لور او نورو کښته طبقو ته يی واجب ندی بللی.

او که وصيت د زامنو اولادی ته وي، وصيت واجبه د زامنو اولادی ټولو طبقو ته کيدای شي لکه د زوی زوی، يا د زوی زوی زوی، يا د زوی لور يا د زوی د زوی لور او داسی نور.

**د واجبه وصیت د استحقاق شرطونه**

1. لمسیان د میراث مستحق نه وی: د متوفی هغه لمسیان چی وصیت ورته واجب دئ دا په دی شرط جې د میراث د قواعدو په اساس با لفعل د میراث مستحق نه وي، او که چیرې د میراث مستحق وي - اگرکه کم شی وی – بیا وصیت ورته واجب نه دئ، بلکهدهغی برخی مستحق دئ کوم چې د میراث د قواعدو په اساس یې مستحق گرځي، لکه څنګه چې په (۲۱۸۲) ماده کې په دې تصریح شوی.

د مثال په ډول که یو شخص وفات شی او له ده څخه مور، دوه لورگانی، او یوه د زوی لور او یو د زوی زوی چی د دوی دواړو پلار د نیکه په ژوند کی وفات شوی وي،پاتې شي، پدی صورت دوی وارثان پاتې دي، په دې صورت کې د زوی لور او زوی ته وصیت واجب نه دئ ؛ ځکه دوی له ترکی څخه د عصوبت په اساس د شپږمی برخی میراث مستحق گرځيي، اما په پورتنی مثال کې که د متوفی د زوی زوی موجود نه وی، د زوی لور د متوفی له ترکی څخه د میراث په اساس د څه شي مستحق نه گرځي، په دی حالت کې وصیت ورته واجب دئ، کولای شي جې د واجبه وصیت پر اساس د نیکه له ترکی څخه هغه مقدار مال مستحق شی، که چیری پلار یی ژوندی وی دهغی مال مستحق گرځیده.

2. متوفی (نیکه یا نیا) خپلو هغه لمسیانو ته چی پلاریی د ده په ژوند وفات شوی وي، بی له عوضه له بلې لارې، لکه هبه، وقف – هغه مقدار مال چی د واجبه وصیت سره مساوي وي – نه وي ورکړی، او که نیکه دې لمسیانو ته بې له عوضه دومره مال چې د واجبه وصیت له مقدار سره مساوي وي – په خپل ژوند کې ورکړی وي، بیا وصیت ورته واجب نه دئ او که د واجبه وصیت نه یې په کم مقدار سره مال ورکړی وي، په هغه اندازه چې د دوی حصه تکمیل شي، له ترکی څخه د واجبه وصیت په اساس ورته اجرا کیږی.

**د واجبه وصیت مقدار او اندازه**

مدنی قانون په خپله (۲۱۸۲) ماده کې د متوفی د هغه لمسیانو لپاره چې د هغوی پلار د نیکه په ژوند کې وفات شوی وي په هغه اندازه او مقدار سره - کوم چې د دوی پلار د حیات او ژوند په صورت کې د میراث مستحق گرځیده - وصیت واجب بللی، په دی شرط چی دا مقدار د ترکی له دریمی برخې زیات نوی، او که چیری یې د میراث برخه د ترکی له دریمی برخی زیاتیده بیا وصیت په دریمه برخه سره واجب دئ ؛ ځکه دوی چې د دې برخی مستحق گرځي د میراث په اساس د دی برخې مستحق نه گرځي؛ ځکه دوی له میراث څخه محجوب دي، بلکه د واجبه وصیت په اساس د دې برخې مستحق گرځي.

په خلاصه ډول سره ویلای شو که چیرې د هغې لمسیانو د پلارد میراث برخه (چی دنیکه په ژوند کې وفات شوی) د ترکی له دریمی برخی لږه وه، دوی د همدی میراث د واجبه وصیت په اساس مستحق گرځي، او که د میراث برخه یی د ترکی له دریمې برخې سره مساوي یا زیاته وه په دی صورت کی تنها د ترکی دریمه برخه مستحق دي، د زیات مال مستحق نه دي، د یادونی وړ ده چې ابن حزم ظاهری د واجبه وصیت لپاره معینه اندازه نه ده ټاکلی بلکه په کوم مقدار سره چې وصیت کوونکی غوښتی وي، وصیت کول ورباندی واجب دي.

**دڅیړنې پایلې**

1. د جمهوروعلماوو نظر دا دئ: وصیت په اسلامی فقه کې اختیاري اومستحب کار دئ، که چیرې یوشخص د ژوند په اخري شیبوکې د خپل مال په دریمه برخه - خپلوهغواقاربوته چې له میراث نه محجوب او یامحروم وي، اویا د میراث مستحق نوي - وصیت وکړي د اجر اوثواب کاردئ، وربانديې واجب اولازم نه دئ.
2. اهل ظاهر او رین اوفقها په دې نظردي، کله چې یو شخص وفات کیږی اوله هغې نه مال په میراث پاتي شي، په هغه باندې واجبه ده چې خپلو هغو اقاربو ته چې د میراث مستحق نه دي – په یواندازه مال سره وصیت وکړي، اوکه وصیت یې و نه کړ، په ورثه یا وصی باندی لازمه دهچې د مړي غیر وارثو اقاربو ته څه مقدارمال د مړي له ترکې څخه ورکړي.

3. د افغانستان مدني قانون او د مصر د وصیت قانون یوازې د مړي د زوی له طرفه لمسیانوته، او د لور له طرفه لومړۍ طبقې لمسیانوته چې د دوی پلار د نیکه په ژوند کې وفات شوی وي‌او د میراث مستحق نه وي، د مصلحت او ضرورت په بنا په ځانګړو شرایطوسره وصیت واجب بللی، اوکه نیکه د دوی په هکله وصیت نوې کړی، د قانون د حکم پر اساس دوی ته له ترکې څخه په هغه اندازه مال ورکول کیږی کوم مال چې پلار یې د ژوند په صورت کې د میراث مستحق ګرځیده، په دې شرط چې د ترکې له دریمې برخې زیات نشي.

**وړاندیزونه:**

په اسلامی ټولنه کې ډیر ځله داسې واقع شوي او واقع کیږی، چې د پلار په ژوندانه کې یو زوی وفات کیږي اولاد یې یتیمان پاتې کیږي، د اجتماعی عدالت د تأمین په خاطر، او د یتیمانو د بی وزلی په منظور، او دا چې دوی د میراث د قواعدو په اساس د میراث مستحق ندی، زه دا پیشنهاد کوم.

1. چې د علماوو او مساجدو د امامانو له خوا عامه پوهاوی زیات شي، چې کله د پلار په ژوندکې یو زوی وفات کیږي، نیکه مخکی له مخکی خپلو لمسیانو ته به یو مقدار مال وصیت وکړي.
2. د علمی تحقیقاتو او رسنیو له خوا دا څیړنی همګانی شي تر څو خلک د واجبه وصیت په رابطه پوره پوهاوی حاصل کړي.

**ماخذونه**


1. احکام میراث ازنګاه فقه وقانون پوهاند عبدالعزیز، انتشارات سعید ص ۴۸
2. فقه السنه،السیدالسابق،ج:۳، ص:۲۸۷.دچاپ ځای:دارالفتح للاعلام العربی، د نشرکال:۱۴۲۰ هق ۱۹۹۹م، ۲۱چاپ. مخکی مرجع.
3. صحیح البخاری:دحدیث شمیره (۳۷۱۸) .صحیح مسلم:دحدیث شمیره (۱٦۱۷)
4. صحیح البخاری :دحدیث شمیره (٦۷۳۳) .صحیح مسلم:دحدیث شمیره (۱٦۲۸).بیهقی:۲٦۹/٦
5. مسند احمد: ۴۴۱/٦. بیهقی: ۲٦۹/٦.
6. بدائع الصنائع،کاسانی، ج:۴، ص:۴۲۳، دچاپ ځای:داراحیاء التراث العربی، دریم چاپ،بیروت،لبنان، ۱۴۲۱هق، ۲۰۰۰م. حدیث مخکی تخریج شوی.
7. فقه السنه،السیدالسابق،ج:۳، ص:۲۸٤.دچاپ ځای:دارالفتح للاعلام العربی، د نشرکال:۱۴۲۰ هق ۱۹۹۹م، ۲۱چاپ
8. د ابوداود سنن، دحدیث شماره:(۲۸۷۰) . دترمذی سسنن، دحدیث شماره:(۲۱۲۱) (۱۱)مخکی تخریج شوی.
9. شرح قانون الوصیه الجدید المصري الصادربه القانون رقم ۷۱لسنه ۱۹۴٦،تالیف سیدعبدالله حسین.
10. احکام المواریث فی الشریعه الاسلامیه،تالیف دکتورعمرعبدالله،ص :۳۳۱،دارالمعارف،څلورم چاپ،ط۱۹٦٦
11. دا د اردنی باحث سلیمان اشقر تعریف دی،رآفت محمود عبدالرحمن نقل کړی،ص:۸، دبحث عنوان دی:الوصیه الواجبه
12. احکام المواریث فی الشریعه الاسلامیه، تالیف دکتورعیسوی احمدعیسوی،ص:۲٦۳،په مصرکی د دارالتالیف مطبعه،شپږم چاپ،۱۹٦٦ دعدلیی وزارت، رسمی جریده، دریم ټوک، ص ۷۰۴.
13. محلی،دابن حزم تالیف، ۳۴۹/۸،جامع البیان فی تاویل القران، دمحمدبن جریرطبری تالیف،۳۸۵/۳
14. الفصول فی الاصول،دابوبکرجصاص حنفی تالیف، ۲۷۷/۲.فتح القدیر،دکمال ابن همام تالیف، ۴۱۴/۱۰
15. الموافقات، دشاطبی تالیف .۴۸/۵ .روضه الناظر،دابن قدامه تالیف.۲۳۲/۱
16. مبسوط دسرخسی تالیف، ۱۴۲/۲۷،دارالمعرفه، بیروت .الذخیره،دقرافی تالیف :۱/۷،دارالمغرب الاسلامی،بیروط.مغنی المحتاج، دخطیب شربینی تالیف :٦٦/۴ دارالکتب العلمیه، لمړی چاپ.المغنی، دابن قدامه تالیف، ۱۳۷/٦.احکام القران، دجصاص تالیف،۹۰/۲

17. مبسوط دسرخسی تالیف، ۱۴۲/۲۷،دارالمعرفه، بیروت .
18. الذخیره،دقرافی تالیف :۱/۷،دارالمغرب الاسلامی،بیروط
19. مغنی المحتاج، دخطیب شربینی تالیف :٦٦/۴ دارالکتب العلمیه، لمړی چاپ.
20. المغنی، دابن قدامه تالیف، ١٣٧/٦.
21. المحلی بالاثار،دابن حزم تالیف،۳۴۹/۸ دارالفکرالعربی،بیروت. جامع البیان فی تاویل القران، دمحمدبن جریرطبری تالیف،۳،۸۴۳/۳،۳۸۵/۳، ۳۸۸.الاحکام فی اصول الاحکام، دابن حزم تالیف،۱۱۳/۴. دقرطبی تفسیر،۲٦۲/۲.
22. محلی،دابن حزم تالیف، ۳۵۳/۸.
23. تفسیرطبری،۱۲۳/۳.تفسیر الرازی، ۲۳۱/۵، ۲۳۵.تفسیر جصاص، ۲۰۳/۱. تفسیر سمرقندی،۱۲۰/۱.
24. تفسیربغوی،۵۷۲/۱.،دار احیاء التراث العربی،بیروت،لمړی چاپ،۱۴۲۰هق. تفسیرطبری، ۷،۸/۸.
25. بخاری په صحیح کی روایت کړی، دحدیث شماره،(۲۷۳۸)
26. محلی،دابن حزم تالیف، ۳۴۹/۸ .سبل السلام دصنعانی تلیف،۱۵۱/۲
27. تفسیر قرطبی، ۴۸/۵. احکام القران دابن عربی تالیف،۴۲۸/۱. تفسیربغوی،۵۷۳/۱.
28. تفسیر قرطبی، ۴۸/۵،لباب التاویل فی معانی التنزیل،دعلاء الدین الخازن تالیف، ۱۰۹/۱. الذخیره دقرافی تالیف،٦/۷.
29. دعدلیی وزارت، رسمی جریده، دریم ټوک، ص ۷۰۴.
30. الوصية الواجبة في القانون امصري،دراسة تآصلية تطبيقيه نقدية، د/عادل عبدالرحمن احمد محمد.ص۳۸.
31. المحلي لابن حزم الظاهري ۳۵۳/۸